د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

د تحلیلی خپرونو لنډیز

# د بلخ اقتصاد د انتقال په پړاو کې



پاول فیشتین، اسلام الدین همکي او محمد قاسم

د ۱۳۹۲ کال د زمري میاشت

ليکونکی: پاول فيشتين، اسلام الدين همکي او محمد قاسم
ژباړونکی: ماری شيرزاد

انځورونه: د حنيفه علی زاده له خوا د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره لپاره
د نشريی مخصوص شميره: ١٣٠٦P

© ١٣٩٢ د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره. ځيني حقونه خوندي دي.دغه خپرونه ښايي د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداري او د ليکوال د ليکلې اجازه ليک د تر لاسه کولو سره بيا خپره، د موندلو وړ سيستم کې زيرمه او يا يواځې د غير-سوداګريزو موخو لپاره وليږدول شي. چيرې چې دغه خپرونه بيا خپره، زيرمه او يا د بريښنايي لارې ليږدول کيږي، د افغانستان د څیړنې او ارزونې داداري د ويب پاڼې اړيکه بايد ذکر شي www.areu.org.af او ددې خپرونې په کارول له  نوموړې موافقې پرته ، د خپرونکې يعني د افغانستان د څیړنې او ارزونې د اداري مخکيني ليکلې اجازه ليک ته اړتيا لري.  دغه اجازه ليک کيدای شي د areu@areu.org.af او يا د ٠٠٩٣٧٩٩٦٠٨٥٤٨ شميرې سره د اړيکې له لارې تر لاسه شي.

د دې څیړنې مالي مرسته د سويډن د نړيوالې پراختيا د همکارۍ د اداري له لورې برابره شوې د.

## د افغانستان د څېړني او ارزوني د ادارې په هکله

د افغانستان د څېړني او ارزوني اداره په کابل کې میشته یوه خپلواکه څېړنیزه اداره  ده. ددې ادارې دنده د لوړ څرنګوالي درلودونکو او پالیسۍ پورې اړوندو څېړنو له لارې پرپالیسۍ او چارومثبتي اغیزې او دمعلوماتو پراخول دي. همدا راز نوموړې اداره په افغانستان کې د څېړني او زده کړې د کلتور د ودې په موخه  د څېړني پایلې په چټکه توګه خپروي. دې موخې ته  د رسیدو لپاره  نوموړې اداره  د پالیسي جوړونکو، مدني ټولنې، څېړونکو او زده کونکو سره ددوی د څېړنېزې وړتیا د پیاوړې کولو  او ددوی په مینځ کې د دې ادارې د څېړنو او کتابتون  څخه د ګټه اخیستنې دترویج  په موخه  بنکیل ده څو په  دې توګه وکړای شي  شننو،  غبرګونونو او خبرو اترو ته لاره هواره کړي.

نوموړې ادارې په ۱۳۸۱ لمریز کال په افغانستان کې د بوختو مرستندویه ټولنو په مرسته یې په کار پیل وکړ اود یو مدیره پلاوې درلودونکې ده چې د بسپنه ورکونکو ټولنو له خوا  لکه ملګرې ملتونه او نورو څو اړخیزو ادارو، او نا دولتي ادارو له خوا یې استازیتوب کیږي. د افغانستان د څېړني او ارزوني  اداره اوس مهال خپله اصلي بسپنه د فنلنډ له سفارت،  د سویډن له نړیوالي پراختیایي ادارې(SIDA ) او د پراختیا او همکارئ لپاره د سویس له ادارې څخه تر لاسه کوي.

په ۱۳۹۲ کال کې د دې ادارې ځانګړې پروژې د  اروپایي کمیسیون(EC)، د سویس د پراختیا او همکارئ  د ادارې(SDC)، بهرني پراختیایي انستیتیوت(ODI)،  د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام (UNDP)، د ملګرو ملتونو د کډوالو د لویې کمیشنرئ (UNHCR)، د ملګرو ملتونو د ښځو  او  همداراز د فنلنډ د سفارت له خوا برابرې شوي دي..

## د لیکوال په اړه

پاول فیشتین ( د کرهنې اود  سرچینو د اقتصاد ماسټر) د افغانستان د څېړني او ارزوني د ادارې پخوانی مشر دی د افغانستان په اړه د ده تجربې  ۱۹۷۷ کال ته  ورګرځي. نوموړی اوس مهال د امریکې د متحدو ایالتونو د ټفتس د پوهنتون  د فنستین د نړیوال مرکز یو مجاز کتوونکوونکی همکار دی.

انجنیر اسلام الدین همکي اوس مهال ( د غبرګولي له  میاشتې څخه)  د بلخ ولایت د کرهنې، اوبورسولو او مالدارئ په ریاست کې  د پالیسی او پلان جوړونې د څانګې مشر دی.

انجنیر محمد قاسم  او س مهال د مزار شریف د آریا په  پوهنتون کې د انجنیرئ د پوهنځي مشر دی

## کور ودانی

لیکوال د دې رپوټ د مسودې د نسخې له بصیرت او پوهې نه ډکې بیا کتنې له امله له لاندینیو یادو شوو کسانو نه د زړه له کومې مننه کوي:

بیل بایرد، ډیپالي موخو پادهیي، سید یاسین نقشپا، میګن مینیون، نادر نادري، هوشنګ شیوا، مایکل بوچارد، ټام ګریګ او فلوریان سمیتمنز.

همدا اراز دی هیله لري چې د کار په نړیوال سازمان کې له هیرف برجر، له آزادو سلا کارانو هر یو ستیوان لندریګان، ډیوید منسفیلد، د افغانستان لپاره د ملګروملتونو د یونما په دفتر کې له میګن مینیون، د بلخ ولایت د افغانستان د سوداګرۍ د ملاتړ په اداره کې له محمد صدیق مرادي، د مالیې وزارت د مرستو د انسجام په څانګه کې له جاوید عمر، د افغانستان د مطالعاتو لپاره په امریکایي انستیتیوت کې له عمر شریفي، او د شمال په سیمه ییزې مرکزي قومندانۍ کې له اولریچ سیودبیک ، او د افغانستان د څیړنې او ارزونې په اداره کې له رایس ویلز له هر اړخیزو مرستو او نظریاتو څخه هم د زړه له کومې مننه څرګنده کړي

د سویډن له حکومت او په کابل او مزار شریف کې د دوی د کارکوونکو له مالي او نورو مرستو له امله د زړه له تله مننه کوي. همدا راز د افغانستان د مطالعاتو د امریکایي انستیتیوت څخه چې د دوی د بازار د اقتصاد په هکله یوې مخکینۍ څیړنې د دې رپوټ په برابرولو کې یې خورا مرسته کړې ده هم د زړه له کومې مننه کوي.

## اجرائیوي لنډیز

په داسې حال کې چې د ۱۳۹۳ کال د لیږد د شننو او خبرو اترو زیاته برخه پر امنیتي او مالي موضوعګانو څرخیږي، خو د بهرنیو ځواکونو د وتلو د اقتصادي اغیزو په اړه مخ په زیاتیدونکې اندیښنې موجودې دي چې دغه اندیښنې په مستقیم ډول د توکو او خدمتونو د تیټ لګښت او په غیر مستقیم ډول د پراختیایي فعالیتونو تدریجي کمښت له امله دي چې له پوځي شتون سره مل دي. د افغانستان پر اقتصاد د نړیوالې ټولنې د لګښتونو د کمښت د منفي اغیزو په اړه لړڅه شکونه موجود دي، خو د دې شکونو د کچې په اړه اختلافات شته. د شننو له مخې دغه ستونزې به زیاتره هغه جګړې ځپلې ولایتونه چې زیاترې مرستې یې تر لاسه کولې او خدمتونه ، ترانسپورت او نور سکتورونه د بسپنه ورکوونکو د اړوندو لګښتونو له لارې پر مخ تلل

## د افغانستان اقتصاد له ۱۳۸۰ لمریز کال راهیسې

له ۱۳۸۰ کال راهیسې، د افغانستان اقتصاد د ۱۳۸۲ او ۱۳۹۱ کلونو تر منځ په ټولیزه توګه د کورني نا خالص تولید سره په منځنې ډول په کال کې له یوولس سلنې څخه د زیاتې ودې، او د وګړې پر سر له دوه برابره څخه له زیات عاید سره یې پیاوړې ونډه درلوده. دغه وده د ساختماني، مخابراتي، سوداګرۍ او ترانسپورت د فعالو سکټورنو له لارې هڅول شوې ده.

له ټولیزې ودې سره سره، بیکاري دیوې ګواښوونکې ستونزې په توګه د افغانستان پر وړاندې موجوده ده. د کارپوهانو په وینا، د کاري فرصتونو له رامنځ ته کیدو او د بیوزلۍ د کچې له راټیټیدو سره سره ، د کار موضوع اکثراً د سیاسي اجندا ګانو څخه په شا تمبول کیږي، او د ثبات له پروګرامونو پرته، چې له بلواګرۍ څخه د جګړې د عمر نارینه وو د لیرې کیدو په موخه لنډمهاله دندې رامنځ ته کوي، پر اوږدمهالو دندو او د بیوزلۍ پر راکمولو تمرکز نه کیږي.

د کانونو او د سوداګرۍ د سکټورونو له لارې د د ندو رامنځ ته کیدو او پراخ بنسټي شتمنۍ لپاره د هیلو پوره کول امنیت، خورا همغږو سیمه ییزو سیاسي اړیکو، زیربنایي پانګونو، سازماني او اداري اصلاحاتو او وخت ته اړتیا لري.

له خورا ډیرو هیوادونو نه زیات د افغانستان سیاسي او اقتصادي تګلاره په پراخه توګه د نړدې ګاونډیانو پر کړنو پورې اړونده ده چې په خپل وار سره د هغو هیوادونو تر منځ او له نورو هیوادونو سره د اړیوکو تر اغیزې لاندې دي. سیاسي ملاحظات، بې باوري، د ذینفع ډلو واکمني، او په ځینو حالاتو کې د اقتصادي سیاست د موازنې طرفداران ښایي د سیمه ییزې اقتصادي همکارۍ له لارې د لاسته راوړنو پر وړاندې محدودیتونه وضع کړي.

## د بلخ اقتصاد

د بلخ ولایت او د هغه مرکز ، مزار شریف، د تاریخي شواهدو له مخې د شمال اقتصادي او سیاسي مرکز بلل کیږي، او لکه چې لیدل کیږي د خپل موقعیت، امنیت، او نسبتاً اغیزمنې اداري له کبله یې په پراخه توګه پرمختګ کړی دی. په بلخ کې د نورو برخو په پرتله د سوداګریزو ټولنو ، د پارلمان د غړو ، د ولایتي شورا د غړو او ځورواکو او عطا محمد نور تر منځ چې مرکزي رول لوبوي پیاوړې همکاري شتون لري.

د ۱۳۸۱ کال نه وروسته په بلخ کې اقتصادي پراختیا د یو شمیر مهمو سکټورنو په ځانګړې ډول ساختماني، ترانسپورت او سوداګرۍ له لارې هڅول شوې ده. په داسې حال کې چې په وروستیو کلونو کې بیا رغول شوو لارو د ترانسپورت بیه راټیټه کړې او نسبتاً ښه امنیتي چاپیریا ل بازارونو ته د محصولاتو د لیږد په برخه کې یې آسانتیاوې رامنځ ته کړي، د تولید له ټیټې کچې سربیره، د مارکیټونو نشتوالی د کرهنې پر وړاندې یوه ستره ستونزه ده.

ساختماني شرکتونه په بلخ کې د راجیستر شوو شرکتونو له نیمایي نه زیاته برخه جوړوي چې د ولایتي اقتصاد د هڅوونکي په توګه د نوموړی سکټورارزښت په ډاګه کوي. په داسې حال کې چې د مزار په شاوخوا کې د ښارګوټو او نورو پروژو د جوړولو په موخه د دولتي ځمکو قانون ولی تر پوښتنې لاندې دی د ځمکي پراختیا خصوصي ساختماني سکټور هڅوي.

د ۱۳۹۳ کال نه وروسته، په مزار کې چټکه اقتصادي وده، په خاصه توګه ساختماني سکټور، نه یوازې له بلخ او ګاونډیو ولایتونو نه بلکې له لیرې پرتو سیمو نه یې کارګران راجلب کړي دي. د مزار د کار لنډ مهاله مارکیټ آن د کلیوالو سیمو د ګنو کورنیو لپاره د معیشت د انځور یوه خورا مهمه برخه ده؛ غیر رسمي اټکلونه څرګندوي چې ۸۰ سلنه لنډمهاله کارګران له کلیوالو سیمو اوسیدونکي دي. شواهد څرګندوي چې په حقیقت کې د مزار د ساختماني اړوندو فرصتونو د ښې اجورې له کبله، کارګران په کرهنیزو کروندو کې د زیاتو سختو کارونو تر سره کولو ته لیواله نه دي.

## د بلخ اقتصاد د بدلون په حال کې

د ۱۳۹۳ کال لیرد او په ملي او نړیواله کچه د سیاسي فعالیتونو زیاتوالي یولړ حرکتونه چې د اقتصادي فعالیتونو اختلاط او کچه به په ولایت کې اغیزمنه کړي رامنځ ته کړي دي. امنیت او سیاسي بې باوري هغه مهم فکټورونه دي چې اقتصاد به اغیزمن کړي. نړیوال پوځیان په بلخ کې نسبتاً کم ارزښته او له جسارته پرته له دې چې ګڼ شمیر په دې باور دي چې د صحنې تر شا د دوی شتون ډارونکي سیمه ایز قومندانان او د بې ثباتې نورو باالقوه سرچینو پر کنټرول مثبتي اغیزې لري. زیاتره ځواب ورکوونکي له همدې کبله د پوځیانو بشپړه وتلو ته لیواله نه وو.

پر راتلونکي بې باوري او د ډاډ نه شتون اقتصادي کړنې، په ځانګړې ډول پانګونه او د مشتر یانو لګښت یې اغیزمن کړې دی. دځمکو او ملکیتونو په بازار کې له ۳۰-۶۰ سلنې پورې کموالی، د شخصي وسایطو په مارکیټ کې کموالی، او دکورنیو په لګښتونو کې بې له حده زیاتوالی په بلخ کې د ویرې نښې نښانې دي. اقتصادي فعالانو د لنډ زماني چوکاټ او کم خطر له کبله یې د سوداګرۍ پر تاریخي ارجعیت بیا ټینګار وکړ. د بې باورۍ اوسنۍ کچې ته په پام سره، په ۱۳۹۳ کال کې د بهرنیو پوځیانو له وتلو او ولسمشریزو ټاکنو وروسته په اقتصادي ډګر کې له کومې اقتصادي ودې نه که وي هم ډیره تمه به له واقعیته لیرې خبره وي. په ورته وخت کې، بې باوري کولای شي د ځینو وړاندوینو لامل شي او اقتصادي پریکړې اغیزمنې کړي.

په داسې حال کې چې کره محاسبه موجوده نه ده، خو د معلوماتي سر چینو د اټکل له مخې په فعالیتونو کې د ۱۳۸۹ کال راهیسې ۵۰ سلنه کمې تر سترګو کیږي او د کوچنیو او د لږ وړتیا درلودونکو شرکتونو په برخه کې اقتصادي بحران رامنځ ته شوی دی. په ساختماني چارو کې کموالي په لنډ مهالو عوایدو د متکي خلکو او د ساختماني موادو لکه: ګچ ، چونې، خښتو ، کړکیو او دروازود برابرونکو په ګډون د دندو پر تولو کچو یې اغیزې پرې ایښي دې. په ۱۳۹۱ او ۱۳۹۲ کلونو کې د کارګرو دعوایدو د کمښت او آن په ټپه دریدلو نښې نښانې تر سترګو کیږي. ساختماني موادو ته کمه اړتیا به سوداګرۍ او ترانسپورت او همدا رنګه د مشتریانو توکي اغیزمن کړي.

د سیمه ییزو سیاسي فعالیتونو، په ایران کې پر میشتو افغانانو د فشارونو د زیاتیدو، او د ۱۳۸۸ کال دمرغومي له میاشتې راهیسې د لویدیځ د تحریمونو له امله د ریال په ارزښت کې د کابو یو پر دریمه کمښت له کبله ایران ته مهاجرت یو لږ په زړه پورې انتخاب دی، چې دا به د پیسو لیږد راتیټ او په کلیوالو سیمو کې به د بیکارۍ کچه لوړه کړي.

په داسې حال کې چې د ۱۳۸۶ کال نه بلخ د کوکنارو څخه یو خلاص ولایت ګڼل کیږي، د کاري فرصتونو کمښت د کوکنارو پر کرکیله د محدودیت د کمیدو لپاره به فشارونه زیات کړي. دا به داسې یوسیاسي او اقتصادي سخت وضعیت وي چې له نشه یي توکو سره د مبارزې منفوره پالیسي چې له وړاندې نه تر فشار لاندې ده دوام ومومي؛ په ټولیزه توګه د کرکیلې راکموونکي لاملونه په سختۍ تر سترګو کیږي.

د پوځي او پراختيايي حضور د را کميدو د پايلې په توګه به په هېوو (پوځي هېوو) کې د ندو اود هېوو د ساتنې او څارنې او د هېوو د ساختماني پروژو لکه د ودانيو او لارو په قرار دادونو کې کمښت به پر ځايي اقتصاد د مستقيمو او غير مستقيمو اغيزو په ډله کې وي. سره له دې په ولايت کې د نړيوالو پوځيانو د لګښت ټيټه کچه په دې مفهوم ده چې بلخ به د پوځي او پراختيايي حضور د کميدو څخه د هيواد سويلي او ختيځو سيمو په پرتله لږ اغيزمن شي.

## مثبت لاملونه او فرصتونه

بلخ د يو شمير ښيګنو درلودونکی دی، د دې ولايت جغرافيايي موقعيت په بهرنۍ سوداګرۍ کې يې د مهم رول د لوبولو جوګه کړی چې ځانګړې سازماني محدوديتونه بايد پرې راکم شي. د خلم او کندز ترمنځ د تاريخي لارې جوړيدل د کندز او مزار تر منځ د سوداګرۍ د زياتيدو يو مهم لامل دی چې دا مهال بايد د پلخمري له لارې وليږدول شي. په ولايت کې له جګړې څخه د مخه صنعتي زيربناوې ښايي د بيا ودانولو لپاره يو لړ فرصتونه برابر کړي. جوړې شوې لارې، امنيت او زيربنا کرهنيزو ټولنو ته د غوره بازارونو په پراختيا او همدا راز پراخ توليد د کرهنيزو محصولاتو د پروسس کوچنيو اومنځنيو صنايعو ته د ښو فرصتونو په برابرولو کې مهمه ونده لري. تر يوې کچې د غاليو بيا را ژوندی شوی نړيوال مارکيټ ښايي د بلخ د غاليو صنعت ته نوي فرصتو رامنځ ته او په ځانګړې ډول که وکړاي شي داسې لارې چې د غاليو ځايي ارزښت لوړ ، او د اومه موادو د برابروونکو تر منځ اړيکې رامنځ ته کړي.

جرمني او سويډن د بلخ ولايت مهمو بسپنه ورکوونکو افغانستان ته د مالي مرستو د پراختيا ژمنه کړې چې د دې مرستو زياته برخه به بلخ ولايت ته ځانګړې شي. دا څرګنده نه ده چې د امريکې د متحدو ايالتونو د راکمو شوومرستو څومره به بلخ ته ورکړل شي. کابو ترهرې سناريولاندې راتلونکې څو کلونه به افغانستان ته په نړيوالو مرستو کې د نسبتاً زيات کمښت شاهد وي، په ځانګړې توګه د دوه اړخيزې حساب ورکوني د کاري چوکاټ د معيارونو په پوره کوولو کې پاتې راتلل به د ۱۳۹۱ کال د چنګاښ د مياشي د توکيو په کنفرانس کې د بسپنه ورکوونکو له خوا له ۱۳۹۲-۱۳۹۵ کلونو لپاره به د ۱۶ ميلياردو ډالرو د شووو ژمنو راکميدل به توجيه کړي.

## خنډونه او محدودونکي لاملونه

ځينې لاملونه چې د بلخ په ولايت کې د پراخ بستو اقتصادي فعاليتونو د ودې په وړاندې خنډونه جوړوي، په ټول افغانستان کې يو شان دي، په داسې حال کې چې ځينې يې ولايت ته ځانګړي دي. د سيمه ييزو ارزانو وارداتو سره سيالي يو مهم خنډ دی. تر يوې کچې، د افغانستان ستره بې توازنه سوداګري، نا سمې سوداګريزې اړيکې چې ګاونډيان تر ې ګټه پورته کوي، څرګندوي. چې پر دمپينګ( په ارزانه بيه د توکو پلورل) او لوټوونکو بيو تورن دي او په څرګنده توګه هغه نوي رامنځ ته کيدونکې افغان صنايع چې ښايي له وارداتو سره سيالي وکړي په نښه کوي. په کلک سياسي چاپيرياڵ کې د سيمه ييزو ګاونډيانو د نيت په اړه زياتې اندېښنې، د سياسي، توکميزو او ډله ييزو اړخونو تر څنګ اقتصادي اړخونه هم لري. د جغرافيايي او تاريخي لاملونو له مخې، بلخ او د افغانستان شمال په ټوليزه توګه له اقتصادي اړخه له خپلو شمالي ګاونډيو سره تړلی نه دی، لکه څرنګه چې د افغانستان ختيځ ولايتونه له پيښور او پاکستان سره تړلي دي. افغان حکومت د زيربناوو په برابرولو ، پر وارداتو د ګمرکي تعرفې پر لګولو، پر ترانسپورتي حقونو بحث او په ټوليزه توګه د افغان سوداګرو د ګټو د ساتنې په وړاندې په پوره ځواب نه ويلو تورن دی.

سر بيره پر دې، د څارنې او تصديق لپاره اغيزمنې زيربنا ته او همدا راز د کرهنيزو توليداتو د پاکولو، بسته بندی، وچولو او ساتنې لپاره اسانتياوو ته اړتيا ده څو افغانستان وکړای شي د توکو د پروسس د ودې له لارې چې اوس يې د ګاونډيانو له خوا تر سره کيږي د خپلو توکو ارزښت لوړ کړي. د آمو پر سيند د اوبو لګولو د يوې سترې پروژې جوړول تر ټولو کلکه غوښتنه ده . دې موضوع ته نه پاملرنه د حکومت او د هغه د شريکانو د نه اغيزمنتوب د نښې په توګه ياديږي.

د هغو وړاند وينو سره چې افغان اقتصادي فعالان مخامخ دي ۱۳۹۳(۲۰۱۴) کال هم د اقتصاد هغه بنيادي او سيستميکې ځانګړتياوې څرګندوي چې له تاريخې اړخه يې لړه وده کړې، چې زياتره يې په کمزورې حکومتدارۍ او د خلکو او

خصوصي سکټور تر منځ د واک د نه ورکولو، رقابتي ضد یا آن د چارواکو له خوا  د داړونکي چلند په ګډون پر تاریخي اړیکو اړوندې دي. په ټولیزه توګه پر ادارو د  باور نه شتون  او د حکومتي چارواکو یا په هغوی پورې د تړلو کسانو له خوا د داړونکي فساد  له لارې د غصب له  ګواښ سره د خپل ځان او خپلې پانګې د مخامخ کیدو له ویرې آن په لومړي سر کې رسمي ادارو ته  دخپلو شرکتونو د پراختیا لپاره د تللو په هکله کلکه نه لیوالتیا څرګندوي، او یا تر هغې هم خورا لویه خواشیني  د سلب مالکیت او یا د نوي رامنځ ته شوي اداري له خوا د هغه له سره ویش دی.

په پای کې ،  د ودې د لاملونو ، بیوزلۍ او کمزورو ادارو ګډ ترکیب د نفوسو د زیاتیدو سره سم د اوبو د کمښت، د سیند د څنډو له منځه تللو، د هستوګنې او سوداګریزو سیمو د  پراختیا له لارې چاپیریا ل له زیانونو سره د مخامخ کولو،  د سوند د توکو په توګه د خطرناکو موادود  سوځوولو( د بیلګې په توګه د ټیرونو سوځول)، د زیاتو حاصلاتو له امله د طبیعي سرچینو د راکمیدلو په ګډون په چاپیرېال پورې د  یو شمیراړوندو ستونزو لامل دی.

## وړاندیزونه:

- په نړیوالو مالي مرستو کې د چټک کموالي  څخه مخنیوی وشي، تاریخ دا یې په ډاګه کړې چې د یوې تباه کوونکې بې ثباتۍ او د  اقتصادي نوښتونو د نه هڅولو لامل به شي.
- د افغان حکومت او نړیوالو ادارو د اصلاحاتو لپاره د لید لورو په هکله واقعبین اوسئ،  او دا باید درک شي چې په اوسنیو شرایطو کې د اصلاحاتو طرفداران د لږ امتیاز خاوندان دي.
- پر پانګونو د کلکي پاملرني له لارې( د ښځرو د ښنني په ګډون)  فرصت غوښتوونکو او ګټه تر لاسه کوونکو کړنو ته د فرصتونو د رامنځ ته کولو څخه مخنیوی وشي.
- د پروژې په تنظیم کې  د دندو د رامنځ ته کولو او بشري پانګو د پر کار ګمارلو په ګډون معیارونه په څرګند ډول سره یوځای شي.
- د اغیزمن عدم تمرکز لپاره امکانات په ډاګه شي، څو سیمه ییزچارواکي او اقتصادي فعالان  په آزاده توګه او په چټکۍ سره  پرته له دې چې د مرکز او ولایت تر منځ اړیکې زیانمنې شي عمل وکړي.
- د پراخو ټولنیزو ګټو او سیالیو د توازن په موخه  د هغو نړیوالو شرکتونو سره چې د منرالونو د استخراج په لټه کې دي  خبرې اترې وشي څو د فرصت غوښتوونکو لپاره د فرصت برابرولو څخه مخنیوی وشي.
- د ټولنیزې حساب ورکونې لپاره چې  په راتلونکې کې د استخراجي او نورو اقتصادي فعالیتونو له لارې د ټولنیزو ګټو له پراختیا سره  مرسته کولای شي میکانیزمونه وهڅول شي.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
کورشمیره۱٤٤، حاجي یعقوب څلور لاري څخه دشهید څلورلاري په لور،
کین اړخ ته دریمه کوڅه. نوی ښار، کابل، افغانستان
ټلیفون: ۰۸٤ ٦۰۸ ۷۹۹ (۰) ۹۳+
برېښنالیک: areu@areu.org.af
برېښنا پاڼه: www.areu.org.af